# د پښتني فوکلور لنډه پېژندګلوي او د هغوي قسمونه

# A brief introduction to Pashtun folklore and their Kinds

Issn 2304-1463

Dr. Noor Muhammad (Danish Bettani)*
Dr.Ayat Ullah Khan Wazir**

**Abstract:**

Folk lore is a genric term. It has multidimential aspects . Every nations of the world has its own Folkloric colors and shads. Actually Folkloric characteristics of a nations reflects feelings and emotions of the masses. Similarly Pashto Folklore has its own charms and very rich history. Whenever literature is evolved, it encircles history, culture, religion and related activities prevailed in a society. Pashto Folklore is rich in presenting all aspects of life and particularly religion, Pakhtun wali, customs and traditions which is discussed widely in it.

In this paper some of the important Folkloric features will be analyzed and discusses in depth.

**Keywords**: Folklore, Pashto, Literature, history, Customs, Traditions.

## فوکلور

فوکلور د يوياني ژبې کلمه ده بلکې د دوؤ توريو مرکبه ده: لکه فوک او لور چې په معنا د خلقو پوهې ته وئيلې کېږي- د ارتقاء نه تر انتها پورې د ژوند چاپېر چل چې څۀ کېږي څۀ تېرېږي په لنډو لفظونو کښې به دا اوويو چې د فرد د پېداوښت نه تر مړينې پورې چې په کومه دائره کښې وخت تېره وي دغه هر څۀ په حرف عام کښې د يو قوم، قبيلې يا معاشرې فوکلوري برخه ده- البته د نړۍ په قومونو کښې فوکلوري توپيرونه ضرور شته چې يو او بل ئې په خپله کښې وېشلي دي- په هغه کښې ژبه او بعض دود دستور هم دي چې د مختلفو هېوادونو او قومونو په مينځ کښې ئې سرحدونه ټاکلي دي- په سوچ او فکر ئې سره بېل کړي دي- ځان ځانله ئې تهذيبونه جوړ کړي دي- دغه وجه ده چې په نړۍ کښې د مختلفو قومونو پېژندګلوي په اسانۍ سره کېږي- ځينې داسې څيزونه شته چې هغه يو بل سره ډېر لنډ مشابهت لري محض به ئې د ژبې فرق وي نور په کښې هېڅ قسم تغير په نظر نۀ راځي- بعضې خو داسې عوامل هم شته چې د يو بل

---

** Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.
* Lecturer Pashto Department Islamia college university of Peshawar.

په کړۀ وړۀ کښې ئې ذره برابر تغیر نۀ شته چې هغه مختلف قسم لوبې دي- هسې خو د فوکلور ساه ډېره اوږده او پرېمانه ده ځېنې محقېقین وائي، چې:

د اسمان نه لاندې د زمکې په سره ټول هغه کړۀ وړۀ چې په بېلو بېلو ټولنو کښې ئې انسانان ترسره کوي- دې ته فوکلور وائي- د ځېنې خیال بیا مختلف دے هغه د هر ولس ځانګړتیاوې د فوکلور برخه ګڼي، یا به دا اوویو چې فوکلور د انسانانو یوازېني هغه کړۀ وړۀ ته وائي چې د نورو قومونو یا اولسوالۍ سره تغیرات لري- هسې خو وړاندې د وینا وشوه چې فوکلور د یونانۍ ژبې کلمه ده البته د محقېقینو په مینځ کښې دغه اختلافات هم خرنډ دي-

ځېنې ئې د انګرېزي ژبې یوه کلمه شماري- بیا ځېنې وائي چې نه دغه د یونانۍ ژبې کلمه ده چې سینه په سینه د نړۍ په ژبو کښې مستعمل شوط ده - بعضې خو بیا دا هم وئیلي دي چې فوکلور د فرانسېسۍ ژبې نه نورو ژبو ته منتقل شوې کلمه ده- البته د خیال ضرور پېدا کېږي چې زمونږ زورمره او چاپېرچل ژوند ته زیات تره اصطلاحات او کلمې د لاتینۍ ژبې نه راغلې دي نو فوکلور به هم د لاتینۍ ژبې کلمه وي- په دې اوسني وخت کښې خو انګرېزۍ ژبې دغه کلمه بېخي لنډه کړې ده او په یو توري کښې ئې راوړې ده چې ورته FOLK وئیلے کېږي- البته LORE ورسره لاحقه ده چې په وئیلو یا نۀ وئیلو ئې اثر نۀ پرېوځي- په دې مخکښې چې د فوکلور په باقاعده ډول د مختلفو لغتنو په رڼا کښې نظر واچولے شي لنډ شانتې تعارف ئې په مثال او اسانه ژبه کښې مخې ته راوړل ضروري ګڼم:

فوکلور هغه کوټه ده چې د نړۍ مختلف قومونه په کښې استوګن دي- البته د باهر راوتلو له پاره ئې هر قوم ته بېل بېل ور پرېښودلے دے- چې په دې سبب د یو بل قوم په کړۀ وړۀ کښې تغیرات او اختلافات پېدا کېږي-

فوکلور د انګرېزۍ ژبې تورے دے- چې د دوؤ توریو مرکب دے FOLK په معنا د خلق او LORE معنا پوهه ده یعني د خلقو معتلق پوهه حاصلو ته فوکلور وئیلے کېږي- چې په دې کښې د نفسیاتو نه واخله د ژوندنه هر عمل داخل شامل دے- په Oxford Languages کښې تعریف په دې ډول راوړلے شوے دے:

"The traditional beliefs, customs, and stories of a community, passed through the generations by word of mouth." [1]

[1] From oxford languages

ژباړه: د يو اولس روايتي عقائد ، دود دستور (رسم ورواج) او قيصې چې په زباني ډول د يو نسل نه بل نسل ته منتقل کېږي- دې ته فوکلور وائي-

په اردو ژبه کښې فوکلور ته "لوک داستان" وائي- چې تعريف ئې په دې ډول کېږي:

"لوک کہانی، اسلاف یا اجداد کی جانب سے چلی آنے والی داستانیں ہوتی ہیں، جن کی عام طور پر کوئی تحریری حیثیت نہ رہی ہو (گو یہ الگ بات ہے کہ آج کی دنیا میں جہاں ہر چیز اور ہر موضوع پر لکھا جاچکا ہے وہیں لوک کہانیاں بھی اس سے مستثنیٰ نہیں)۔ انگریزی میں اسے folklore کہا جاتا ہے۔"[2]

ژباړه: فوکلور د پلارانو او نيکونو له اړخه سينه په سينه راراوان داستانونو ته وائي، چې په حرف عام کښې دغه داستانونه په تحريري صورت کښې موجود نۀ وي (البته دا بله خبره ده چې په اوسنۍ زمانه کښې چرته چې کوم شے دے يا کومه موضوع ده په هغه ليکل شوي دي چې فوکلور هم د دې نه پاتې نۀ دے)- په اګرېزۍ کښې ورته فوکلور وائي-

دلته که د فوکلور په تعريف غور وکړے شي نو يقينن چې ډېر په واضحو توکويو سره بيان شوے دے- خو که بل اړخ په اردو چې د فوکلور معنا ته وکتل شي نو په معيار پوره نۀ پرېوځي- ځکه چې لوک داستان ته به فوکلور وئيل د فوکلور معنا نيمګړې پاتې کېږي- سبب ئې دا دے چې لوک داستان د فوکلور يو جزو خو کېدے شي البته پوره فوکلور هېڅکله نۀ شي کېدے- غواړم چې فوکلور ته په اردو ادب کښې يوه جامعه کلمه وټاکلې شي- د بده مرغه فوکلور ته په پښتو ژبه کښې څۀ خاص اصطلاحات نۀ دي راوړي شوي- کومه کلمه چې په انګرېزۍ کښې کارولې شي هم دغه ورته په پښتو ژبه کښې کارېږي- البته پښتنانۀ ځانله خپل فوکلوري بنې لري خپل دود دستور لري چې د نړۍ نورو قومونو نه ئې رابېل کړي دي- محمد صديق روهي د فوکلور په حوالې سر ليکلي دي:

فوکلور د زيار ايستونکيو د هلو ځلو او په ژوند کښې د پېښو هېنداره ده چې په هغه کښې د خلقو اجتماعي سائيکالوجي، د دوے انګېرنې او برداشتونه، د هغوي ارمانونه او غوښتنې، د دوے ذوق او پوهې سطحه، د دوے مبارزې او فعاليتونه او په پاي کښې د دوے باطني نړۍ ژوتياوې منعکسيږي، سره له دې چې په فوکلور کښې جادو، خرافات او دې ته ورته نور عقائد او تجربې هم شاملې دي، خوکه موضوع په ژوره او هراړخيزه توګه وڅېړله شي، نو د لرغونو انسانانو جادو او خرافات هم، د حياتي اړتياو سره نېغې اړيکې لري، له ځينې خرافاتي

[2] W https://ur.m.wikpedia.org

اړخونو په نفي کولو سره له فوکلور څخه د تربيتي مقصدونو و ستيتيکې غوښتنو د پوره کولو لپاره هم استفاده کيږي- [3]

د ښاغلي روهي د وينا نه دغه انګېرنه کېږي چې هغه د روزمره ژوند هره ساه د فوکلور سره تړلې ده- هر چې څۀ دي فوکلوري دي- او زمونږ د کلتور برخه ده- چې په دې کښې بشر پوهنه او ټولنپوهنه هم شامل دي- خو بيا بل ځاے ښاغلي څېړنوال بشر پوهنه ځانله بېله موضوع ښودلې ده او د څېړنوال دوست محمد دوست د کتاب (ولسي ادب لارې) په سريزه کښې بل ځاے ليکلي دي:

د فوکلور د اساساتو د څېړنو په ترڅ کښې بايد د فوکلور او اجتماعي بشر پېژندنې ترمينځ حدود څرګند وي، پخوانيو ليکوالو دغه دواړه موضوع ګانې سره ګډې کړې وې- [4]

د باندې وينا نه دا نتيجه راوځي چې عمومي بشر پېژندنه يوه بېله موضوع ده- او د بشر په مټ توليد شوي مادي وسائل او د هغو په وړاندې احساسات ځانله بحث دے- دلته په کار ده چې فوکلور په تهوربتهکل لحاظ د هغو مسئلو سره يو ځاے کړي چې په هغه کښې محض د احساساتو او جذباتو نه اډنه اخيستې شي- ښاغلي حبيب الله رفيع د فوکلور تعارف نور هم اسان کړے دے- هغه ليکي:

"فوکلور ته په بېلابېلو ژبو کې د فرهنګ عامه، خلق پېژندنې، توره شناسي، دانش عوام، خلقيات او د اساطيرو او مېتودولوژۍ نومونه ور کړل شوي، چې هره يوه د خلقو د پېژندنې او د خلقو د فرهنګ معنا لري-" [5]

ښاغلي د بيان انداز نه جوته پته لګي چې په اصل کښې انساني ژوند هم فوکلور دے- باندې راوړلي شوي اصطلاحاتو باندې کښې نظر وچولے شي- نو ټولو د هغو څيزونو او اصطلاحاتو وينا شوې ده چې د انساني ژوند په چاپېر چل کښې شامل دي- د ښاغلي رافيع صاحب دغه وينا کننده کول ضرروي ګڼم- ځکه چې د فوکلور په حوالې سره به دغه تاريخي وي- هغه ليکي:

---

[3] روهي، محمد صديق (څېړندوی)، فولکور پېژندنه.: (۱۳۶۵ ل) کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي خپرندوی، مخ: ۳۶

[4] شينواری، دوست (څېړنوال)، د پښتو د ولسي ادب لارې، ۱۳۸۷ ل، پېښور، دانش تخنيکي خپروندويه، مخ: ۳۶

[5] رافيع، حبيب الله،

"دا اصطلاح لومړی ځل انګریزي لیکوال ټامس په ۱۸۴۶ زېږدیز کال کښې د همدې مفهوم (د خلقو پوهه او حکمت) لپاره وضع کړه، خو محققین په پښتو کښې (د خلقو پوهه) د فوکلور جامعه او مانعه معنا نۀ ګڼي، ځکه چې د خلقو پوهه یو عام نوم دے چې د دوے ټول علوم، زده کړې او تجربې پکښې مطالعه کېدے شي او دا نو فوکلور ته نشو اختصاصولی-" [6]

شاید که څوک د ټامس دې وینا سره هم خیالي وي- ځکه چې تر نن ورځې پورې که څوک د فوکلور تعارف کوي نو دغه معنا یعني د اولس پوهه وړاندې راوړي- البته د ښاغلي په وینا کښې وزن ضرور شته- هغې سبب دا دے چې یو خوا که معنا ئې د خلقو پوهه ده نو بل خوا په کښې ځېل ځانګړې څېزونه ټاکلي دي او فوکلور مو په درې برخو وېشلے دے- چې په دې ډول دي-

1. مادي فوکلور (چې شفاهي فوکلور هم ورته وئیلے شي-)
2. نیم مادي فوکلور (چې ورته نیم شفاهي فوکلور نوم هم یاد شوے دے-)
3. غېر مادي فوکلور (دغه برخې ته غېر شفاهي فوکلور اصطلاح هم کارېږي-)

## مادي یا شفاهي فوکلور

د مادي یا شفاهي فوکلور مقصد د اولس د روایاتو تجزیه کول دي- هغه د کوم ذهینت خلق دي، ژوند ئې په کوم ډول دے یا معاشرتي نظام ئې څنګه چلېږي د دې اندازه لګول دي- د شفاهي ادب په حوالې سره محترمه ډاکټر سلمی شاهین لیکلي دي:

"فوکلور هغه علم دے چې د اړلسي ژوند او ادبي تاریخ د نامعلومه لرغوني دورونو سره تعلق لري- د دې علم د زده کړې مقصد دا دے چې په صدو مخکښې د یوې معاشرې د خلقو د سوچ او فکر انداز څۀ وۀ ـــ په دغو فوکلوري ملغلرو کښې هغوي د خپل ژوند، مسائلو، غم ښادۍ او د خپلو ساده جذبو اظهار د خپل معاشرتي ضرورت مطابق کړے وي-" [7]

دغه سوچ او فکر اندازه به په شفاهي فوکلور کښې په اسانۍ سره مخې ته راشي- البته وړمبنے به هغه کوم توکیو ته اډنه لري چې د شاهي یا مادي فوکلور اساس دي- په هغه کښې سیمه ایزې ویناګانې شاملې دي، سیمه ایز نومونه په کښې اډنه لري، متلونه په کښې شته،

---

[6] هم دغه،

[7] پېغله سلمی شاهین، ډاکټر، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پرله پسې ګڼه ۴۲۵، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۹ء، مخونه: ۱۱-۱۲

سندرې (لنډۍ) هم د دې برخه ده، معماوې (نوټ) د معما نه مستعمل توری دے چې يو نوم يا تاريخ او مطلب د نثر يا نظم په ټوټه کښې په رمز او ايما سره د تشبه، قلب، تصحيف، تحليل، تبديل، ترکيب، اشتقاق، د جمل حساب او تاليف په صورت راوړلو ته نغميه وائي- لنډه ده چې دغه ډول معماوې تل د ابجدو د حساب د زده کړې له مخې چې توري ئې ځانګړې قيمتونه لري او د يو خاص ځيز، وخت جواب يا معنا ترې راوځي- لکه دمثال په توګه:

ببلتانـــهٔ دې پــــه زړګــــي بانــــدې پرهـــار کــــړم
ظالمــــانو د منصــــور غونــــدې پــــه دار کــــړم
مــــا عزيــــز درتــــه خپــــل خــــون دے دربخښــــلے
مــــيم کــــړه لــــرې لــــه صــــمد نــــه چــــې دې يــــار کــــړم

په دې معما کښې چې د صمد توري کومه وينا شوې ده که چرته مونږ د صمد نه /م/ حرف لرې کړو نو دې نه به صد جوړ شي، د ابجدو په حساب د صد ۹۴ هندسه راوځي يعني ص ۹۰ او د ۴ چې دغه يو قسم معما ده- کيسې، ټوکې، دودونه، اولسي قوانين، د مشرانو درناوے، دکشرانو حقوق، ټولنيزې چارې چې اشر هم ورته وئيلے شي، نکلونه او داسې نور دا هر څهٔ په مادي ادب کښې اډنه لري چې زهٔ د يو يو صنف تعارف راوړل بعيد اهم نهٔ ګڼم- البته داور خان داود کالي پترې، جامه پېزار، اواز، سيکې (COINS)، کتبې او نور چې دهات، کاڼي، اوسپنې، پيتلو، تانبې، خاورې کپړې يا لرګي نه جوړ کړے شوي وي- د مادي فوکلور سره ئې تعلق ښودلے دے او د اولس ثقافت نه ئې ورته وئيلي دي او د علم الانسان يعني (SOCIAL ANTHROPOLOGY) نوم ئې ورکړے دے- [8]

## نيم مادي يا نيم شفاهي فوکلور

ځنګه چې مادي فوکلور تحريري صورت نهٔ لري هم بالکل دغه شانتې نيم مادي فوکلور هم په تحريري شکل کښې موجود نشته- او دپاتې فوکلور په ډول ننيني نسل ته سينه په سينه رامنتقل شوے دے چې په دې کښې توهم پرستي يا وهمونه (Superstition) شامل دي- له

[8] داود، داور خان، خوشحال او فوکلور، جدون پرنټنګ پرېس پېښور ښار، فروري ۲۰۰۶، مخ: ۴۰

دې وهمونو سره يره، خوف، خطره او احساسات تړلي شوی دي- خوب ليدل هم د توهم پرستۍ يو صورت دے- او دغه څيزونه زيات تره د پښتو په شاعرۍ کښې هم موجود دي- دې نه سېوا خرافاتي عقيدې، کرکه، پال اچول، د ستورو پېژندنه کول، نڅه کول د مثال په توګه اتڼ، ګډا، او داسې نور ټول د نيم مادي فوکلور سره اړه لري- د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کښې د نيم مادي فوکلور په حوالې سره ډاکټر زبېر حسرت شهباز اخبار ته ليکلي شوي يو ارتيکل کښې ليکلي دي:

"د خوشحال په کلام کښې دې اړخ ته ډېره زياته توجه شوې ده- خوب ليدل هم له توهم پرستۍ سره تعلق لري- خوشحال د خپلو خوبونو ذکر هم په خپل کلام کښې کړے دے- د خوشحال بابا په زمانه کښې د روم او يونان د حکومت او سياست دبدبه وه- هغه پخپل يو خوب کښې ويني چې د روم لښکرې په هندوستان راغلې او د اورنګزېب حکومت او سلطنت ئې درې ورې کړے-[9]"

د روم لښـــــکرې پـــــه هندوســـــتان راغلـــــې
نســـکور (شـــول) د شـــاه د خېمـــې چوبونـــه

شايد د خوشحال بابا دغه يو ارمان وي- ځکه چې هغه د اورنګزېب عـالمګير سره نـه لګي وه او په ځانګړې ډول ئې د هغۀ تحت ورانولو طاقت نۀ لرلو- حالانکې بابا د علم او فضيلت والا سړے وۀ چې د علم نجوم، علم جفر، علم ابجد او دغسې د خوبونو او فالونو ټولو زده کړو نه خبر وۀ- کوم څيزونه چې د کورني توکيو سره تعلق لري هغه هم په نيم مادي فوکلور کښې شامل دي چې په هغوي کښې کورني دارو درمل هم شمارلے شو- هسې خو په دې لړ کښې د ډېرو بوټيو وينا شوې ده البته دلته د طب په حوالې سره چې خوشحال خان د سپېلنيو کومه وينا په شعر کښې کړې ده هغه مخې ته راوړم:

ســــــــــــپېلني دارو دي جانــــــــــــــه
نشـــــــته بــــــــۀ دارو تـــــــــر دانــــــــه

نيم مادي فوکلور د چاپېرچل نه سېوا په شاعرۍ کښې هم اړه لري البته دغه د مـادي فوکلور پـه شانتې نۀ دے- لکه ټپه، چاربېته، نيمکۍ يا بګتۍ ده- دغه په نظم، غزل، قطعه او رباعي کښې هم کېدلے شي چې مثالونه ئې د خوشحال بابا په شعرونو کښې وړاندې راوړلي شوي دي-

[9] زبېر حسرت، ډاکټر، خوشحال او فوکلور، شهباز ورځپاڼه، مے ۳۱، ۲۰۲۱

## غېر مادي يا شفاهي فوکلور

مادي او نيم مادي نه جوته پته لګي چې دغه دواړه څيزونه وجودي صورت لري- يعني په څۀ نه څۀ شکل موجود وي- البته د فوکلور دريېمه برخه ته ئې غېر مادي وئيلي دي- مطلب دا چې دغه يوه داسې فوکلوري برخه ده چې وجود يعني شته والے نۀ لري- د کتلو سره ئې واسطه نشته البته د اورېدلو څيز ضرور دے چې په هغه کښې موسيقي ده- منو چې موسيقي آلات مونږ وينو کسو البته اوازئې محض په غوږونو اروېدۀ شي، قيصې، داستانونه، رومانونه، افسانې، سندرې او داسې نور دغه ټول غېر مادي فوکلور په زمره کښې راغلي دي- غېر مادي فوکلور هله په تخليق راځي کله چې په يو چا کوم ساعت د خوشحالۍ باعث شي- يا په اسانه وينا کښې دا اوويو چې دغه فوکلور د خوشګوار ساعت په سبب تخليق کېږي- البته دغه قسم فوکلور تخليق کار معلوم نۀ وي- ځکه ورته د ټولې ټولنې په شريکه تخليق ګڼلے کېږي- ټپه، چاربېته، بګتۍ، نيمکۍ، کاکړۍ غاړې او داسې نور د غېر مادي فوکلور اساس بللے کېږي – ځکه چې د فوکلور تر ټولو نه اهمه، خونداوره او ارزښت ناکه برخه هم دغه ده- بل دغه برخه د فوکلور په معنويت، جدت، انفرديت ، قدامت او مقبوليت په سبب پنګه شمارلې شي-

غېر مادي فوکلور هم خپل قسمونه لري البته دلته په دوو برخو وېشلې شوه ده چې يوه منظومه او بلې ته منثوره برخه وئيلي کېږي-

د دې په منظومه برخه کښې هغه ټول صفنونه شامل شوي دي چې وړاندې ئې مونږ وينا وکړه لکه د مثال په توګه: ټپه او داسې د نور صنفونه-

په منثوره برخه کښې د پښتو ادب هغه اصناف شامل کړي شوي دي کوم چې د افسانې او ناول په ډول د نثر په صورت کښې ليکلي شوي يعني بيان شوي وي- په هغه کښې داستانونه، قيصې، ټوقې ټقالې، امروزې، د ماشومانو لوبې او داسې نور-

غېر مادي فوکلور ځانګړے اهميت لري- هغه دا چې د پښتنو اقدار ئې محفوظ ساتلي وي او د ابد نه ئې تر دې وخت پورې رارسولي دي- تر څو چې پښتون قوم وجود موجود وي تر هغې به اولسي ادب او فوکلوري ارزښت سينه په سينه رامنتقل کېږي او د پښتو ادب لوړيتا به ترې جوته وي- اولسي ادب يا پښتني فوکلور په حوالې سره که دا ووئيل شي چې دغه د ژوند هنداره وي چې په کښې د انساني ژوند هر اړخ په ښکارېږي- نوي نوي څيزونه او پوهې ترې پېدا کېږي په دې کښې د رښتياؤ نه سېوا بل څۀ نۀ وي- پوهان ئې د علم سرچينه ګڼي ځکه چې په دې کښې د پوهې بنيادي مواد ، سوچ، فکر، الهام او افهام حاصلېدے شي-

هسې خو فوکلور يوه لوړه پوهه ده چې په دومره لنډو تنګو جامو کښې ئې ځايول په کوزه د سمندر بند کول ناکام کوښښ دے البته مونږ د کوښښ ضرور کړے دے چې په دې لنډه تنګه وينا کښې د فوکلور بنيادي څيزونه مخې ته راوړو دا به د ادب مينه والو له پاره څۀ نه څۀ ارزښتناکه ضرور وي- فوکلور د درې قسمونه نه سېوا پينځۀ خاصيتونه هم لري چې په دې ډول دي:

- فوکلور شفاهاً[10] موجود وي-
- فوکلور په عنعنوي[11] توګه وجود لري-
- فوکلور په نظم او نثر دواړو کښې موجوديت لري-
- د فوکلور جوړونکے معمولاً[12] نۀ وي-
- فوکلور د جز[13] په حېثيت په هر کلتور کښې وجوديت لري-

دا هغه بنيادي خاصيتونه دي چې د فوکلور پېژګلوي، ارزښت او اهميت پته په اسانۍ سره ترې لګي-

[10] يو څيز چې محض د ليک په صورت کښې موجود وي او ليکوال ئې معلوم نۀ وي-

[11] د يو بل نه روايت شوے يعني سينه په سينه رامنتقل سوے

[12] جوړونکے خو ئې ارو مرو وي څوک البته معلوم نۀ وي

[13] څومره چې پښتني کړۀ وړۀ دي د فوکلور برخه وي

# حوالې


1- From oxford languages
2- W https://ur.m.wikpedia.org
3- روهي، محمد صدیق (څېړندوی)، فولکور پېژندنه،: (۱۳۶۵ ل) کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي خپرندوی، مخ: ۳۶
4- شینواری، دوست (څېړنوال)، د پښتو د ولسي ادب لارې، ۱۳۸۷ ل، پېښور، دانش تخنیکي خپروندوپه، مخ: ۳۶
5- رافیع، حبیب الله،
6- هم دغه،
7- پېغله سلمی شاهین، ډاکټر، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پرله پسې ګڼه ۴۲۵، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۹ء، مخونه: ۱۱-۱۲
8- داود، داور خان، خوشحال او فوکلور، جدون پرنټک پرېس پېښور ښار، فروري ۲۰۰۶، مخ: ۴۰
9- زبېر حسرت، ډاکټر، خوشحال او فوکلور، شهباز ورځپاڼه، مې ۳۱، ۲۰۲۱